بسم الله الرحمن الرحيم

<u>کابل-افغانستان</u>

## د وطن گوند د غړو د انسجام د لنډ مهاله
## تشکیلاتو د مرکزی شورا د اجرائیه کمیټې
## اعلامیه

نېټه: ۱۳۹۰/۰۷/۰۴

ډیرو معززو دوستانو او هیواد والو!

د تلي د میاشتي پنځمه د افغانستان د پخواني جمهور رئیس او د وطن گوند د بنسټ ایښودونکي او لاربنود ستر شهید دوکتور نجیب الله د شهادت د حماسي او ماتم ورځ ده.
شهید ډاکټر نجیب الله د ولسونو په زړونو کښې ځانګړي ځای لری.
هغه د سولي او ملي یووالي د لارې وتلي اتل، پر هیواد مین سربښندونکي رهبر او د ولسونو د هیلو او کټو د ستر سنگر پیاوړی او نومیالي مبارز وو.
هغوی په زړه ورتیا د بهرنیو خواکونو وتنه چه د افغانستان د ملت اساسی غوښتنه وه، شونې وګرځوله. هغوی د هیواد د نجات دپاره د بدیل د مناسبی لیارې د موندني به موخه د ملی روغی جوړی د انسان دوستانه سیاست طرحه وړاندی کړه، چه نوموړی آندلیدې، تیوریک دګمونه او ایدیالوژیکي انګیرنې دړی وړې کړې، د طبقاتی مبارزې مفیوم یې رد او پرځای یې دې پایلې ته ځای ورکړ چه د "خواکونو او ولسونو د تجزیې بهیر" تر هر عنوان لاندې چه تر سره کیږی، یو افغاني ضد بهیر دې. د روانی جګړې ماهیت په روښانه بڼه دا ډول څرګند کړ شو چه هغه د افغانانو خپل منځی جګړه نه ده دا ځکه چه د جګړې هیڅ لوري او هیڅ افغان له هغې څخه کوم څه نه ترلاسه کوی.
د "گوند پلوه" دا فارموله چه هر څوک که له گوند سره دی، هغه د وطن سره دی، مردود وګرځول شوه او پر ځای یې دا پایله تر لاسه شوه، هر څوک چه له وطن سره دی، هغه له گوند سره دی او هم یې دا نظریه چه گوند دې یواځې د ټولنې و دیوې برخې استازیتوب وکړی، هم تصحیح کړه، چه پخپله د (وطن گوند) نوم د همدې اصولی بدلون منعکسونکی دی. نوموړی گوند یواځې د افغانی ټولنې د یوې برخې له مصلحت څخه نه بلکه د (وطن له مصلحت) څخه استازیتوب کولای شی.
د وطن گوند لاربنود دا هم په ډاګه کړه چه هیوادنی مسئلې اوس هومره پیچلی شوې، چه یواځې یو ځواک په یواځیتابه نشی کولای، هغوی حل کاندی او اصلا د افغانستان د مسئلو یو اړخیز حل به اوس کښې واقعیت نلری.
په همدې وجه د یوه گوندي دولت پرځای د ټولو افغانانو د ملی وفاق د حاکمیت تاسیسول هدف وګرځید.
د وطن گوند لاربنود شهید دوکتور نجیب الله د مبتکرانه سیاسی طرحي په پایله کښې، دوه له لاسه وتلی کړې بیرته د دوهم ځل د پاره د سیاست ډګر ته را ووتلې:
<u>لومړی:</u> دا چه د ملی روغی جوړې سیاست، هغې مقابلې ته د پای ټکی کیښود، کوم چه د غیر افغانی نظریاتو په وجه د افغانی (انقلابیونو) او ټول ملت د اسلامی معتقداتو تر مینځ، رامینځ ته شوی وه یعنې ملی روغي جوړې افغانی سیاسی آندلیده پر اسلامی مبنې ودروله.
<u>دوهم:</u> دا چه د ملی روغی جوړې سیاست له خپله ځانه د نا خبرتیا هغه دود چه د (انترناسیونالیستی) تعلقاتو په وجه د افغانی سیاسی خواکونو او د افغانی ټولنې د واقعیتونو تر مینځ را مینځ ته شوی وو، پای ته ورساوه یعنی ملی روغي جوړې افغانی سیاسی اندلیده پر ملی مبنی ودروله.

د افغانستان د دولت یو اړخیز نړیوال تړاو لغوه وپیژندل شو او پر ځای یې هر اړخیزو نړیوالو اړیکو ته پراختیا ورکړه شوه چه (ملګرو ملتونو د سولې بهیر) د هغو اساس جوړاوه.
د دکتور نجیب الله شهادت له دې سره سره چه په ظاهر کښې د طالبی ارتجاع د جهل او ظلمت په ناولو لاسونو عملي کړشو، خو په حقیقت کښې ټول هغوی چه د ملګرو ملتونو د هاند سره سره د همدې جنایت د ارتکاب بشپړ بستر غوړولی او هغوی چه د خپلو ولی نعمتانو (هیوادونو او باندونو) به پلوې د افغانستان له جګړو او بد امنیو څخه د ګټې پورته کولو هیله لرله او یا خو د خپلو ستراتیژیکو پروګرامونو د پلې کیدو په موخه یې ورته اړتیا لیدله، د همدې وېرونکې جنایت تر شا قرار لری.
دا دې اوس له هغې توری تلې (میزان) څخه پوره ۱۵ کاله وځی. خو ځرنګه چه ګورو داکټرنجیب الله د هرې ورځې په تیریدو سره د هیواد د سیاسی بهیر په ټولو ابعادو کښې خپل اغیزناک او ځواکمن حضور خپلوی، د هغوی افکار په سیاسی خوځښتونو او معنوی شخصیت یې د ولسونو په زړونو او رګونو کښې ورځای احرازوی.
دوی چې د سولې سمبول ګڼل کیږی، د شهادت حماسه یې نن په هیواد کښې د همدې لارې د مبارزې د برې ځلانده افق پرانیزی، چه له امله یې زمونږ د هیواد تاریخ، شهید نجیب الله د خپل و ویاړه ډک سیاسی میراث په وجه د ځلانده ستوری او د همدې خاورې د زړور بچې په توګه د تل پاتې درناوې او سرلوړې به لیکه کښې دروی. دا ځکه چه د کشالو او منازعو د پای ته رسونې د زنځیری تړیو تیوریکه ټولیزه د جوړ جاړی بنسټیزې ستنې دروی چه پر ستې ئې د سیاسی ټیکاو علمي او عملی نسخې او فارمولی رامینځ ته کیږی. درست همدا ټکی (د جورجاړي دفلسفي تیوریک اړخونه) د خپل معنوی پوټانشیل به وجه چه لری ئې د بشر او بشریت د بقا د دادمن بهاو اړینې شونتیاوې ګرانتی کوی.
همدا وجه د وطن ګوند د متشکلو او غیر متشکلو غړو د یو والې اړتیا رابرسیره کوی او د وطن ګوند د عالی ټولنې د جوړیدنې پر اهمیت او ارزښت تاکید د ورځې پر دستور اوری. مونږ د ستر نجیب د ستر آرمان پر لور یې درومو او هغه به ځای ته رسوو.

ځلانده او تل پاتې دی وی د وطن د لارې د ستر شهید داکټر نجیب الله خاطرې او کارنامې!!!

والسلام